مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رالیږونکی: ګل‌رسول ۲۰۲۳/۰۹/۲۸

د بهرنیانو واده او د افغانانو واده

د بهرنیانو واده:

بلل شوي خلک: 60 کسان
حاضر: 50 کسان
د ماشومانو شمېر: 4
ورک شوي څېزونه: 0
ژوبل شوي کسان: 0
له ناوې د اخیستل شویو انځورونو شمېر: 22
د ګډا وخت: 45 دقیقې
له واده وروسته یې د خلکو نظرونه:
ناوې او زوم ډېره ښه جوړه ده.
په خوشالۍ مراسم پای ته ورسېدل.
خدای دې سره زاړه واړه کړي.

د افغانانو واده:

بلل شوي کسان: 520
راغلي کسان: 1150
ماشومان: 130 دانې هغه هم د شوخۍ، منډې او مزاحمت په حال.
ورک شوي څیزونه: موبایل، چارجر، د چپې پښې بوټ.
د ژوبلیدو خبرونه: د درې کسانو پښې اوښتي دي، د دوه کسانو زنګون شوګاري شوی.
له ناوې اخستل شوي انځورونه: 12 لکه
د ګډا وخت: شپږ ساعته له چپغو او ششپیلاقونو سره
له واده وروسته د خلکو نظرونه:
زوم له ناوې نسبتاً جګ و.
ناوې له زوم ښکلي ښکاریده.
د زوم پوزه اوږده وه.
د ناوې کالي زاړه ماډل وو.
خواړه یې ښه نه وو.
د واده کیک یې کلک شوی و.
د زوم بوټان لیلامي مالومیدل.
او بلاخره همدا کیسې دوه میاشتې دوام لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ